

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحیم

(c) ketabton.com: The Digital Library

# سریزه

شعر او شاعري آسان کار نه دی. څوک چې شعر لیکي، د هغه په شعرونو کې یو لوی درد وي او د هغه د ژوند سخت حالتونه پکې څرګندیږي. حق ویل او حق منل هم لوی زړه غواړي. زه شاعره نه یم، خو شعر لیکل مې خوښیږي . هغه شعرونه او جملې چې ما لیکلي دي، زما خپل شعرونه نه دي. ډېر کسان وایي چې څوک کتاب لیکي باید خپل شعرونه پکې ولري. کتاب لیکل هم آسان کار نه دی. خو هغه کسان چې کتاب لیکي، پوهان، شاعران یا لیکوالان وي چې حق وایي.

زه باور لرم چې تل حق ویل انسان د ستونزو سره مخ کوي، خو هیله لرل زموږ د ټولنې حق دی.

په درنښت

حفیظه شیرزاد

(c) ketabton.com: The Digital Library

**زندگي يې راته ماته ماته پرې ښنوه!**
**زه يو چا داسې په ځان پسې را مات کړم**

**وراني هيلې مې د ژوند پکې دفن دي**
**زړه مې سم د آرمانونو هديره ده**

**چې له زړه نه محبت چا سره وکړې**
**که هر څومره بې وفا شي نه هيريږي**

(c) ketabton.com: The Digital Library

**هیڅکله ځان غټ مه بولي**
**ځکه د هر انسان ارزښت**
**دو متره کفن دي**

**تا پوښتلی وو چی څومره درته گران یم**
**اوس نو واخله د باران څاڅکی حساب کړه**

(c) ketabton.com: The Digital Library

**له هر چا گیله مه کوئ**
**ځکه هر څوک د انسانیت په**
**معیار،برابر نه وی**

**ژوند**
**د یو بل په زغملو**
**ښکلی کیږي!!**

**د زړګي خاموشه درده لري لري!**
**د وجود شدیده درده زنده اباد!**

(c) ketabton.com: The Digital Library

**انتقام اخیستل کمزوري ده، ببښنه کول**
**د سترو اشخاصو کړ نه ده**

**چی مازیګر شی زړه می تنګ شی**
**ماته را یاد شی هغه تیر شوی وختونه**

**نفرت تر ټولو اسانه کار دی:**
**خو زړونه کټل،مینه،متقابل احترام او حوصله**
**بیا یو ستر نفس ته اړتیا لري.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

بی ارزښته انسان ته
ارزښت ورکول د ځان
سره لویه جفا ده

ماښام مې سترګو ته ولاړ وي
آذان شروع وؤ زه سلګو نیولی ومه

کور دي له غمه خالي مشه
په ما راغلی ورځې ستا د لاسه دینه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځينې وختونه دا زموږ خپلې هیلې دي
چې موږ مایوسه کوي

هر ماښام مې زړه په دې خوشحاله کړی
چې په بدو پسې ښې ورځې راځي

انډیواله ژوند که هر رقم يې
خو د وفادار ملګرې
تر څنګ پاچايي ده

(c) ketabton.com: The Digital Library

**او زما مور خو به زما ویښتان هم**
**خرابولو ته نه پریښودل**
**ای زندګي**
**تا خو زما ټول حال خراب کړو**

**له هیچا هم ګیله مکوې**
**مونږ ته درد هغه چا راکړی**
**چا ته چې مو**
**درمان ویلی وو**

(c) ketabton.com: The Digital Library

**ته راشه کنه ومی گوره**
**زړه د زرګی سره**
**چی ماته به دیر ګران یی**
**او که تاته به دیر ګران یم**

**که اندیښنې زیاتې شوې...!**
**د سجدو مقدار ډیر کړئ..**

**له دی نه بله بیوسی سنګه وی**
**چی یار دی یاد شی او لیدلی یی نشی**

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا د کومې مینې زور دی ای جانانه
ستا د نوم په اوریدو مې زړه تسلي شې

محمد صلی الله علیه وسلم

ای چې بی وروره مازیګر دي څه پري وکړم
په سبند غاړی کې ګودر دي څه پري وکړم
چې دیدن په کې ورور کولې نشم
چې په سترګو کې نظر دي څه پري وکړم

(c) ketabton.com: The Digital Library

**ده چی په خوله د درته**

**خواږی خواږی خبری کوی**

**ده چی په خوله د درته**

**خواږی خواږی خبری کوی**

**په کلیمه درته قسم خورم**

**په زړه تور خلک دی**

**که غواړی خوشحاله شې**

**ژوند له یوې موخې سره وتړئ**

**خلکو او شیانو ته نه**

(c) ketabton.com: The Digital Library

**ځينی خلک مغرور نه وی**
**خو له زړه سره يی دومره لوبی شوی وی**
**چی په هيچا باور نکوی**

**يوازينی سړی چې کولای شي ستاسو**
**لپاره هر څه قرباني کړي، هغه ستاسو**
**پلار دی**

**چی فکر مو وي!.**
**بدې خبرې سل کاله عمر لری..!**

(c) ketabton.com: The Digital Library

**ښه لار انتخاب کړه!**
**ښه خلک خپله پیدا کیږی.!**

**هغه چی د ژوند نه ستړی وی**
**تل پری دا تور لگیږی چی مغرور دی**

**د ریښتینی خندا لپاره،تاسو باید**
**خپل غم سره لوبی وکړي**
**چارلي چاپلین**

(c) ketabton.com: The Digital Library

**پیسهٔ د اوسنیو!!**
**ملګرتیآ وه لومړۍ بنیآد دي!!**

**هیڅوک ساده ندی**
**څوک انسانیت ساده کړی**
**څوک صداقت ساده کړی!**

**کله چی یو څوک درته په خندا کی د خپل خفګان**
**خبر وکړی باوری اوسه چی سل ځله دننه مړ شوی دی**

(c) ketabton.com: The Digital Library

**ما د خپل پلار په شان غمونه پېټول زده کړل،خود**
**مور په شان حوصله مي تر نن ورځ زده نه کړه**

**د خلکو په راضي کولو**
**وخت مه ضایع کوئ هغه ذات راضي کړئ چی ټول**
**يې رضایت غواړي**

**په ځان باور لرل**
**د بریا او پرمختګ لومړی راز دی!**

(c) ketabton.com: The Digital Library

پیسې پیدا کړه

ورک دوستان خپلوان او ملګري

به دې پخپله پیدا شي

ځان مه

ستړي کوه

دلته هیڅوک د چا

په درد نه پوهیږی

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځينې په هېڅ نه ارزي
او ځينې بيا قيمت نلرى

څومره بې معنا شوه زندګي پکې
نور مې له ځوانئ نه ستړى شويم

هغه چې ټول عمر يې نور خندوله
هغه چې ټول عمر يې نور خندوله
هغه اوس خپله ځان هم خندولى نه شى

(c) ketabton.com: The Digital Library

**تولی خوشحالی خپګان خوړلی دی**
**ما ور پسی ډیر نکان خوړلی دی**
**تا په کتابونو مازغه او خوړل**
**ما په هغه یو انسان خوړل دی**

**دی دنیا ده راغلی ټول بی نومه**
**نر هغه ده چی خپل نوم بی کی پیدا کي**

(c) ketabton.com: The Digital Library

**بخښنه اسانه ده**

**مګر هېرول**

**او بیا باور کول ګران دي...!!**

**هر کله چې یو څوک راته د هیلو**

**پوره کیدو دعا وکړي.**

**نو!**

**سترګو ته مې ته ودرېږې؛**

**ځکه چې زما هره هیله ته وې.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

**مینه له مور،صبر له پلار،حوصله له خوره زده کړئ**

**ښه ژوند په ښو فکرونو باندی جوړیږی/او ښه فکرونه په کتابونو که موندل کیږی!**

---

**په چیغو نه کیږی په شور نه کیږي**
**مینه خومینه ده په زور نه کیږي**

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د باران څاڅکی!**

**د ورکو هیلو بوی راوړي**
**چاپیریال سندریز کوي**
**د ځمکې روح ته ور ښې**
**او ماته سکون راکوي**

**ښه انسان! په ښه عمل پیژندل کیږي،ښې خبری خو بد خلک هم کوی.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

پاتي به مي لوي لوي ارمانونه شي
ژونده زه دي پېژنم نيمګري يي

ژوند هم ډير عجيبه دي
کله ګلزار کله بيزار

کله چي زړه خفه او نارامه شي
بيا د ژوند څخه هم کرکه پيدا کيږي

(c) ketabton.com: The Digital Library

**سختي لاري تل ښکلو ځايونو ته تلي وي**
**که ښکلي ځايونو ته مو زړه کيږي!**
**له سختيو مه ويريږي**
**زړونه موغټ کړي**

**انسان تر ټولو لويه ضربه**
**له هغه چا خوري..**
**چې وائـي؛**
**نه ياره زه دا ډېر ښه پېژنم**
**دا هغسې انسان نه دی..!**

(c) ketabton.com: The Digital Library

لاليه! د مسکا شاته مې سل خبرې نورې؛؛
لاليه! خاموشي مې يوه بيله زندګي ده!!

له هغو لرې اوسئ
چې يواځې د اړتيا پر وخت
ارزښت او مينه درکوي

ستا له نوم دغه څلور تکو نه ځار شم
ته زما د زړه دنيايئ
محمد صلى الله عليه وسلم

(c) ketabton.com: The Digital Library

ترڅو مي چي دا ځيني
خپلوان ژوندي وي نورو
دوښمنانو ته اړتيا نشته

چاته په شونډو کې بې شميره خندا ګانې کوي
چاته پندونه د غمونو ورپشا کړي نصيب
څوک يي تر خپله انتخابه پورې ورسول
څوک لکه توری د الف داسې تنها کړو نصيب

(c) ketabton.com: The Digital Library

**مینه او مرګ دواړه ته بی پوښتنې راځي..!**
**مینه زړه اخلي..!**
**او مرګ ژوند..!**

**ځینې وخت له ملګرو لربوالی ځکه ښه وي**
**چې د پوښتنې خلک در معلوم شي**
**او په دې هم پوهه شئ چې څومره**
**وخت مو وچو لرګیو ته او به ورکړي!**

(c) ketabton.com: The Digital Library

بیا یې مه رنګوئ!
هغوئ چې ستاسو په وړاندې یې یو
ځل خپل اصلي رنګ له لاسه ورکړ.

د خلکو خبرې دې خلکو ته ډالې وی..
موږ د ځان لپاره ژوند کوو

تر دې اندازې څوک مه خفه کوئ چې،
له بېښنې وروسته هم در څخه کرکه ولري

(c) ketabton.com: The Digital Library

**زموږ ټول خوبونه ریښتیا کیدی شي؛**
**که چیرې موږ د دوی د تعقیب کولو**
**جرئت ولرو.**

**د هیڅا لپاره د ځان نه ښه انسان**
**مه جوړوئ...._____،،**
**ځکه هر څوک د الماسو په قدر نه**
**پوهیږي**

(c) ketabton.com: The Digital Library

**ځانګړي ورځ مه ټاکه!**
**کله چي يي نيت ولرى هره ورځ د**
**عبادت لپاره غوره ورځ ده**

**کيداى شي د نيمې شپې يوه سجده دې**
**ټول عُمر روښانه کړي.**

**د خلکو په خبرو پسې مه ګرځه**
**دا ستا ژوند دي د دوي ندي**

(c) ketabton.com: The Digital Library

**ښه فکر ولرئ اوښې خبرې وکړئ**
**ځکه بدګماني او بده ژبه دوه داسې عيبونه دي،**
**چې د انسان هر کمال په زوال بدلوي**

**په رب احسان مه اچوه**
**چی زه مسلمان یم**
**بلکي د رب احسان ومنه**
**چی ته یی مسلمان پیدا کړي یی.......**

(c) ketabton.com: The Digital Library

ته خو لاړې زه دې چاته امانت کړم
سرمې ایښی په زنګون در پسې ژاړم

په غیرت سره ژوند وکړه یا به ښه ډیر
دښمنان پیدا کړي، او یا هم ښه ډیر دوستان

حوصله ولره یو څو بدي ورځي
دا معنا نه لري چې ستا کیسه پای ته ورسیده

(c) ketabton.com: The Digital Library

**ګرانښت...!! او ارزښت د هر چا حق دی**
**مګر مینه بیا له هر چا سره نه کیږي**

**ته زما نړی یی**
**او دا هیڅکله نه بدلیږی**
**محمد صلی الله علیه وسلم**

**په دروغجنه مسکا**
**درد پټول،هنر نه بلکې د بې وسۍ**
**اخري حد دی**

(c) ketabton.com: The Digital Library

**داسي ژوند وکړه"**
**چي نامرده خلک دي هم په**
**دوستي پسي ارمان وکړي**

**عزت لرونکې خلک هغه څوک دي**
**چی د بل عزت خپل عزت وګڼي**

**قرآن کریم.!**
**کلک زړونه نرموي..!**
**مات شوي زړونه جوړوي**
**او ناروغو زړونه ته شفا ورکوی**

(c) ketabton.com: The Digital Library

## دوست..

-دوست هغه دې،چې ترخنګ دې ناست
وي که خبرې هم نه کوئ؛خو په شتون
یی خوشحاله یې.

که ریښتیا درته ووایم،
په ژوند کی مې د خوشحالی په نوم هیڅ پاتې ندئ
د خپل د غم د پټولو په خاطر په هر سه کی د خپل
خوشحالی کوشش کوم،مګر دننه چی زه سومره
یواځئ یم په دی یواځئ زه خبر یم

(c) ketabton.com: The Digital Library

**باور مې نه راځي چې انسانانو دومره**
**پرمختګ کړی وي حتیٰ تر دې چې**
**مصنوعي خندا، ژړا، مینه، ملګرتیا...یې**
**هم خلق کړي دي.**

**په نړۍ کې تر ټولو قیمت ترینه او صفا**
**اوښکه د مور د سترګو اوښکه ده**

**چي وخت تیریږي غم ډیریږي**
**نه پوره کیږي د لالی زړه ارمانونه**

(c) ketabton.com: The Digital Library

**قلمه راشه بسم الله ولیکه**

**نوم د محمد رسول الله ولیکه**

**چی زخمي زړه ته مي سکون حاصل شي**

**خوږی خبرې د آقا ولیکه**

**محمد صلی الله علیه وسلم**

(c) ketabton.com: The Digital Library

**دغه شعرونه او لنډې جملې چې ما ليکلي، زما خپلې نه دي.**

**ليکوالان او شاعران يې راته معلوم نه دي، ځکه چې په مجازي پاڼو کې د شعرونو او جملو سره د ليکوال نوم نه وي ليکل شوی.**

**که ماته معلومه وی، نو ما به د هر شعر سره د هغه ليکوال نوم هم ليکلی وی.**

**خدای دې وکړي چې دغه شعرونه مو خوښ شي، او زه په دې هيله يم چې ټول ځوانان خپلو هيلو او ارمانونو ته ورسيږي او د ژوند په هره لاره کې بريالي وي. تعليم زموږ د ټولنې حق دی.**

**که کومه تېروتنه مې کړې وي، په املا کې يا بل ځای، نو بخښنه غواړم.**

**ستاسو د برياليتوب په هيله،**

**په درنښت،**

**حفيظه شيرزاد**

**کال ۱۴۰۲**

(c) ketabton.com: The Digital Library

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**